خالد ریحان ببری

نښتېځلی غاټول

پسرلی په خوب کې وینم

څو همزولي دي یو زه یم

د دوئ ګوتو کې سیندئ دي

زما ګورت* کې سور غاټول دی

د زړې تروركۍ له سر یې ځارومه

زمزمه ورسره کړمه

تروركۍ لاړه

له لرګین صندوق یې ډک پلو را واخیست

یا به ګوړه وي

او یا به وي خوږه مړه پتیره

که دا نه وي

تور توتان به وي یا تکې سرې څنځلې

بس نو چور به وو

کولې به مو یو بل ته کنځلې

پسرلی په خوب کې وینم

د لمدې دښتې په غېږ کې

یو غاټول دی غوړېدلی

په سینه باندې یې داغ دی

هغه داغ

چې له پېړیو د مین د زړه په نوم وو

په ښکلا یې زه مین وم

د مین د مینې رنګ یې

په څهره کې ځلېدلو

مینه ناک به موسېدلو

شومه دم کې به سپومۍ ورته وړانګینې پستې ګوتې

په وروروو را غزولي

له غاټول نه به یې غلي شان د داغ پوښتنه وکړه

د غاټول ګل به موسکی شو

وېلي داغ نه دی سپوږمیه!

ما بلا د شین خالیو د غونډیو زنو وړې

ستوري شنه شول له خندا نه

د فطرت په کټوریو کې یې پرخه

د غاټول غیږې ته راوړه

یو څو ګامه یوې خواته

د کیږدۍ له یو نیمکښه پیڅول نه

د څراغ د رڼا لیکه

د غاټول په ګل پرته ده

د رنګونو منظره ده

څو قدمه بلې خواته

د سندریځو , زرګو** شپول دی[1]

چې رمه ده پکې پنډه

د اوزو میږو غرمبی دی

داسي شخوند وهي په خوند خوند

چې سوکه سوکه د نیمي شپې سکوت ورسره مات شي

بس یو خوب وو...

خو اوس

هرڅه بدل شوي

---

1

*ګورت: موټی

* * زرګه اغزن بوټی دی چې په دشتو او غرونو کې وي. کوچیان چې د رمې لپاره شپول جوړوي نو زرګه ډیره پکې کاروی* ځکه اغزی لري تر څو شپول مظبوط راشي (د شاعر نوټ)

په کیږدیو بارودي ژلی ده شوی

د زړکو بوی یې خیږي

په ژوندوني الیږلي دي پسونه

د تیوته ځګي په خوله کې

دی په وینو سور د کوچو سپین غونډاری

او د پوڅي په سر پروت دی

سور بخون غوندي پیروی

سرکی اوبښ هم دی بې حاله

ګرنجوونی یې ګونګی دي

سپوږمی ځان په تروږمی کې دی پیچلی

ستوري غواړي چې شمکور شي

پرخه پرخه

څاڅکي څاڅکي

بیرته الوزي آسمان ته

د بارود لوګی په دښته باندي خور دی

د غاټول په لمن سره سکروټه بله

هره پاڼه یې د اور بڅری ښکاري

په نمجن نظر ورګورم

ګوتي ورور ورو ور نیږدې کړم

لولپه مي شي بندونه

تصور د کوم مین مي

خیال ته نه راځي هغسي

کر غیږنه

د جګړې بلا راغلي

په منګول کې یې غاټول دی نښتیځلی

له رګونو نه یې ساه روانه شوی

تازه ګي او رنګ یې دواړه دي الوتي!!